د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپيڅلي نامه

Logar

# لوګر

مياشتنی خپرونه

د تا سيس کال: ۱۳۸۳هـ.ل

دلوګر اطلاعاتو اوفرهنګ رياست مياشتنی سياسي، علمي، ټولنيزه، ديني او فرهنګي خپرونه

يکشنبه د۱۳۹۹ کال د وري مياشتې درېيمه، د ۲۰۲۰ عيسوي کال د مارچ دوه ويشتمه | ۱ | پرله پسې ګڼه (۱۱۱) لومړی کال، لومړی ګڼه

**له ابن عمر څخه روايت دی، چې رسول الله (ص) فرمايلي دي: کله چې الله تعالی دقيامت په ورځ اولين او آخرين (مخکينی او وروستنی) انسانان راټول او راجمع کړي، دهرخيانت کار لپاره به يو بيرغ راځړول کيږي او په همغه بيرغ سره به پيژندل کيږي او ويل کيږي، به چې دا دفلاني دفلاني د زوی دخيانت بيرغ دی.**

**رواه مسلم باب تحريم غدر، ۱۷۳۵**

## په لوګر کې د افغان امنيتي او دفاعي ځواکونو ورځ ولمانځل شوه





دکب۱۲مه: په لوګر کې د پرتمينو مراسمو په ترڅ کې د سرتېرو د ملي ورځې په مناسبت دځلورمې پلې لواء انګړ کې غونډه وشوه او ملي ځواکونه وستايل شول.

پـه لوګرولايت کـې دغـه ورځ د ګـڼو افغـان امنيتـي سرتېرو، بريد ملانو ،افسرانو او قومندانانو سربېره؛ دلـوګر والـي الحـاج محمـد انـور خـان اسـحاقزي، مرستيال والي تورن جنرال محمد نبي احمدزي، ملي امنيـت رييـس بريـد جنـرال اميـر جـان ناصـري، داطلاعاتو اوفرهنګ رييس عبدالرحمن تسل، ولايتي شورا رييس حسيب الله ستانکزي، د ياديې شورا غړو، د لوګر دولتي ادارو مسؤلينو، مشرانو، خبريالانو او عامو خلکو هم برخه اخيستې وه.

د سرتيرو دملي ورځې پـه مناسب لـوګر والـي الحـاج محمدانورخان اسحاقزي وينا وکړه، ويې ويل، چې ستاسو فداکارياني او شهکارياني دي، چې نن ورځ ستاسو کړنې ستايل او يادونه مو کيږي.

اسحاقزي زياته کړه، افغان امنيتي او دفاعي ځواکونه چمتو دي، چې د هېواد لـه ملي ارزښتونو، خاورې او ازادۍ څخـه ساتنه او پـه سيمه کـې د پـوره امـن او سوکاله ژوند د راوستو لپاره شپه او ورځ د هېوادوالو په چوپړ کې واوسي.

پـه همدې حال کې د ولايتي شورا استازي حاجي قسيم خوشـيوال د افغـان امنيتـي او دفـاعي ځواکونـو سرښندنې وستايلې.

هغه زياته کړه: د افغـان ځواکونـو د سرښندنو پايله ده، چې نن د هېواد پـه ګوټ ګوټ کـې د سولې چيغـه پورتـه شـوې او ټـول ولـس جنـګ تـه نـه، ويلـي او د سـولې غوښتونکي دي. هاخوا د ملي اردو يو سرتېری وايي؛ چې د خپلې خاورې ساتنه په پوره ايمانداری او اتلولۍ سره کوم، ترڅو مې چې پـه تـن کـې وينـه جـاري وي، دښمن ته اجازه نه ورکوم، چې زما هېوادوال وځوروي او د وير پر ټغر يې کېنوي.

د غونډې په پای کې د همدې ورځې په وياړ دامنيتي ځواکونو د نقليه وسايطو کاروان دځلورمې پلې لواء نه دپل علم ښار په لورې حرکت او محمداغې ولسوالۍ ته ولاړل، چې پـه لارو او واټونو کې دخلکو لـه غـوڅ ملاتړ او بـدرګو سـره مـخ شـول. دغونـډې پـه پـای شـيبو کـې دولايـت مقـام او نـورو مقامـاتو لخـوا افسـرانو، بريدملانو اوسربازانو ته ملي بيرغونه د ډالۍ پـه توګـه ورکړل شو او ګلان يې پـه غاړه واچول.

د ويلوړ ده، چې د کب نهمـه د ولسمشر محمد اشرف غني د ځانګړي فرمان له مخې د ملي امنيتي او دفـاعي ځواکونو د ملي ورځې پـه نـوم نومولې ده، چې لـه تيرو دريو کالو راهيسې دغه ورځ پـه ټول هېـواد کـې لمانځل کيږي.

## سرليکنه ...

## په نوي کال کې بايد څه ترسره کړو؟

پسـرلی دکـال لـومړی موسم دی، چـې دطبيعـت ښـکلاوو تـه رنګينـې جامې وراغوندي،دانسانانو روان ته سکون وربښـي او د ژوند دچارو په سمبالښت کې رغنده رول لوبوي، ځکه هر وګړی دځان لپاره منظم پلان او تصميم لري، چې څه وکړي او څه ترسره کړي؟

دپسرلي ښکلي موسم کې وګړي نوي پلانونه ترسموي، دهمدې موخو پـه اساس خپلـې چارې سموي او د ژوندانـه ټولـو چـارو لپـاره ځـان دپرمختګ لوري ته باسي.

لـه دغـو پلانونـو پرتـه هرانسـان هڅـه کـوي، چـې دخپـل هېـواد دسمسورونې او رغوونې لپاره نيالګي کېږدي، چې د هېواد هره سيمه ښکلې او زرغونه شي او راتلونکي نسلونو تـه بـه يې دخپلو لاسونو نښانې پريښې وي او ديوې سترې ډالۍ پـه توګـه خلک بـه ورڅخـه ګټـه ترلاسه کړي.

پـه ياد زرغون موسم کې هېوادوال هڅـه کوي، چـې پـه رغنيزو چارو ځانونه بسيا کړي، چې هم به يې هېواد ته خدمت ترسره کړې وي او هم به يې دخپلو اقتصادي ګټو لپاره حلالـه نفقـه خپلو کورنيو تـه ګټلې وي.

ددې لپاره چې پـه هېواد کـې دهرافغـان ژوند خونـدي او د پرمختـګ لړۍ روانه وي، نو مخالفې ډلې دې په افغانستان کې تلپاتې سولې ته غـاړه کيـږدي، ځکـه پـه جګـړه کـې هـېڅ بريـا نشـته او کـوم ځـای هـم نـه نيسي؛ بلکې دبريا لوړ پوړ تـه رسيدل يوازې او يوازې دخبـرو او ملـي مصلحتونوله لارې شونې ده اوبس.

که زمونږ ناچاره ژوند نور په ډول ـ ډول ناندريزو وختونو کې تېر شي، خو دا پـه ياد ولرئ، چې تاريخ به نوي نسل ته دا هر څه پـه ډاګه وليکـي، چې هغه وخت به خدای مه کړه اوسنۍ بې پيروايـي راتلـونکي نسـل تـه دپېغور پـه توګـه پرېښـودل شـي. حال دا چې زمـونږ هېـواد د ويـاړنو ډک تاريخ لـري او بايـد تـل د ملت ويـاړنې دتـاريخ پـه زرينو کرښـو وليکـل شي.

راځئ؛ سږني کال کې ټول ولس د رښتينې سولې او پرمختګونو لپـاره هڅې ګړندۍ کړو، پـه خپلـو سيمو، بانډو او آن دهېواد پـه کچـه اوچت قدمونه دهېواد دښېرازۍ او سوکالۍ لپاره واخلو، چې نـور دبهرنيـو او تاريخي دښمنانو له ناوړو دسيسو خلاصی پيدا او دبين الافغـاني جرګو له لارې خپلمنځي کړکېچونو ته دپای ټکی کېږدو.

څنګه چې دپسرلني پـه زرغـون موسم کې خپلو کروندو لپـاره کـار تـه لومړيتوب ورکوو، همداسې يو څه وخت دهېواد ملي ګټو ته هم وقف کـړو او دهيـواد دآبـادۍ او ښـيرازۍ لپـاره ګـډه او رښـتينې مبـارزه وکړو.

نو زمونږ دکړنو پايلې به مو ژر تر بريا ورسوي او پـه هېواد کې به هرکال دپسـرلني ښـکلي موسـمونو تـه خوښـي پـه جشـنونو او يـوالي سـره ټـول هېوادوال ولمانځي.

د دې ورځې پـه هيله!

**تربيا دخدای پامان**

**مدير**

## از روز جهانی زن درلوگرتجليل بعمل آمد

ازروز جهانی زن درلوگر درحالی تجليل بعمل آمد که آمـار خشـونت نسبت بـه سـال گذشـته درايـن ولايـت کاهش يافته است.

برنامـه کـه بـدين مناسبت بـه تـاريخ 20 حوت، درمقام ولايـت لـوگر دايرگرديـده بـود درآن محمـد انورخـان اسـحاقزی والـی لـوگر، عبـدالرحمن تسـل رييـس اطلاعـات وفرهنگ،شـيما زرگـر رييسـه امورزنـان، برخی روسای ادارات وجمع کثيرازخانم ها اشـتراک ورزيده بودند. سخنرانان درجريان صحبت هـای شان پيرامون حقوق زنان سخن گفتند.

شيمازرگر رييسـه امورزنان ولايت لوگرمی گويد کـه درجريـان امسـال چهـل قضـيه خشـونت عليـه زنـان درولايـت لـوگر واقـع شـده اسـت، رييسـه امورزنـان لوگرعلاوه کرد که درجريان سال جاری دو قضـيه قتـل نيـزرخ داده اسـت و بيشـترين قضـايا لـت وکـوب، دعوای ميراث، نفقه وفرار از منزل می باشد.





خانم زرگر افزود : درسال گذشته بيش ازچهل قضيه خشـونت عليـه زنـان درايـن اداره ثبت شـده بـود کـه امسال اين آمار نسبتاً کم شده است.

وی افزود که با تدوير ورکشاپ ها وبرنامـه هـای آگاهی دهـی زنـان بيشـتر ازحقوق شـان آگـاه شده اند ، منبع اضافه کرد يگانـه علت خشـونت عليـه زنان عدم آگاهی از مسـايل اسلامی است وبايد همه فاميل ها مطابق به دساتير و قوانين اسلامی ازخشونت جلوگيری نمايند.

محمد انورخان اسحاقزی والـی لـوگر مـی گويـد کـه زنـان ميتواننـد تجـارت کننـد ودرمسـايل اجتماعی سهيم شوند ودرعرصه آموزش با آنان همکاری بيشترصورت گيرد ، همچنـان درجريـان پروگرام پيام بی بی گل بانو اول کشوربمناسبت روز زن ازسوی آمرجندربخوانش گرفتـه شد کـه درآن از زنـان افغانسـتان بـه عنـوان قهرمـان يـاد آورد شده بود.  باختر

## ورکشاپ صلح وحل منازعات اجتماعی پايان يافت

پيرامـون صـلح وحـل منازعـات اجتمـاعی بـرای تعـداد ازجوانـان، مسـوولين رسـانه هـا وفعـالان مـدنی درريا ست اطلاعـات وفرهنـگ ورکشـاپ آموزشـی سـه روزه بـا اهـدای تصديق نامه ها خاتمه يافت.

برنامـه کـه بـدين مناسبت درريا ست اطلاعـات وفرهنـگ دايرگرديده بود درآن محمدانورخان اسحاقزی والـی لـوگر، سمونوال رحم خدامخلص قوماندان امنيـه، بريد جنرال امير جـان ناصری رييس امنيت ملی، عبدالرحمن تسـل رييـس اطلاعات وفرهنگ، مسوولين رسانه ها وتعدادی ازجوانان شرکت ورزيده بودند. لطف الله تايب عضو پارلمان جوانان ويکـتن ازاشـتراک کننـده گـان ايـن ورکشـاپ، راه انـدازی همچـون برنامـه هـا را مفيـد عنـوان کـرد وافـزود کـه درقـراء وقصبات برای حل منازعات اجتماعی کار خواهد کرد.



عبدالفتاح مفلح مسوول مرکز آموزشی لنکن ميگويد که درايـن ورکشـاپ بيست ودوتن کارمندان رسانه ها ، استادان وجوانـان شـرکت روزيـده بودنـد ، آقـای مفلـح ميگويـد کـه درجريـان سـه روز روی حـل منازعـات اجتمـاعی، صـلح، مـذاکره، ميانجگيری وهمـدردی بـه شـاملين ورکشـاپ معلومات ارايه گرديد.  **... بقيه درصفحه سوم**

## د لوګر يوه اوسېدونکي خپله ځمکه پوهنې ته وقف کړه

دکب اولسمه:

د لـوګر يـوه اوسـېدونکي پـه دغـه ولايـت کـې د يـوه منځنـي ښـوونځي د جوړولـو پـه موخـه خپلـه شخصـي ځمکه د پوهنې په واک کې ورکړه.

د لوګر د پوهنې رياست وياند شاه پور عرب وويل، چې دغه لوګري اوسيدونکي سلطان محمد خپله يوه اندازه شخصي ځمکـه پـه خوښـۍ ولسـوالۍ کـې د حضرت بلال منځني ښوونځي د ودانۍ جوړولو لپاره ورکړه. عـرب زياتـه کـړه: دغـه ښـوونځی چې تراوسـه پـورې ودانـۍ نـه لـري پـه هغـه کـې پنځـه سـوه زده کوونکي پر زده کړه بوخت دي.  **... پاتې په دريم مخ**

**ګرانو هيوادوالو! دخپلې سيمې اوچاپيريال دزرغونولو او سمسورولو په موخه يو ـ يو نيالګی ستاسو مسؤليت دی، چې په کينولوکې فعاله ونډه واخلئ!**